عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
۱۵ جون ۲۰۲۲
اصل: انګليسي

**عمومي اسامبله**
**شپږ اويايمه ناسته**
د اجنډا ۳۹ ماده
**په افغانستان کې وضعيت**

**امنيت شورا**
**اووه اويايم کال**

## په افغانستان کې وضعيت او پر نړېوالې سولې او امنيت باندې د هغه اغيزې

### د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسمبلۍ د ۶۸/۱۱ ګڼه پرېکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) ګڼه پرېکړه ليک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي څخه غوښتل شوي څو په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د وضعيت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي (يوناما) د ماموريت د تطبيق په اړه، د محلي کچې په ګډون، راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ د مياشتې ۲۸ نېټه کې د (A/77/677-S/2022/64) خپور شوي راپور راپدېخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سياسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دويم. اړوند بدلونونه

۳. د طالبانو واکمن چارواکي، خپل تحريک په منځ کې د نظريو د توپير، د اضافي مخالفو وسله والو ډلو منځته راتګ، د عراق او شام اسلامي حکومت (د داعش د خراسان ولايت څانګې) د نويو بريدونو او د خپلو يو شمېر ګاونډيو هېوادونو سره پر پولو باندې د کړکېچ په ګډون، د يو شمېر مخ پر ودې حکومتداري او امنيتي ننګونو سره مخ شوي دي. د دوی زيات شمېر پرېکړې، بنسټيز بشري حقونه، په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو لپاره، لا نور هم محدود کړي دي. په ورته حال کې د بشري مرستو ته اړتيا په دوامداره توګه زياتېږي، چې کابو ۲۴.۴ ميليون وګړي، چې د ټول نفوس ۵۹ سلنه جوړې، چې په ۲۰۲۲ کال کې د بشري مرستو لپاره اړتيا لري، چې د ۲۰۲۱ کال په پيل کې ۱۸.۴ ميليونه وګړي اټکل شوي و. ملګري ملتونه په دوامداره توګه هڅه کوي چې د بشري مرستو ملاتړ د بشري مرستو څخه جلا چمتو شي او يو داسې انتقالي پراخ د تعامل کاري چوکاټ پې پيل کړي چې بنسټيز بشري اړيتاوي، د اساسي خدمتونو، معاشي فرصوتونو او د ټولنې سيستمونو د بيا احياء له لارې، او د خپل شريکانو سره، د افغانستان لپاره د نوی مرستو جوړښت د طرحې له لارې، تامين شي.

### الف. سياسي بدلونونه

۴.	د طالبانو واکمن چارواکي د دولتي ادارو د بیا جوړښت کار ته دوام ورکړي او د پخواني حکومت د کار کوونکو پر ځای خپل طالب ملګري په دندو ګماري او اکثراً هڅه کوي چې د دغو ګمارنو له لاري د بیلابیلو ډلو څخه کسان وګماري تر څو خپل داخلي ستونزی تر یو حده پوري حل کړي وي. د طالبانو واکمن چارواکي د جنوري په میاشت کې د اداري سمون او ملکي خدمتونو پخواني کمیسیون، د اداري چارو په دفتر کې مدغم کړ. همداراز د عدلیې وزارت د اپریل د میاشتې په ۷ نېټه، د دغه وزارت د سیاسي ګوندنو د ثبت ریاست ملغی اعلان کړ چې له دې امله د ګوندونو د ثبت کار وځندول شو. د مې د میاشتې په ۴ نېټه د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د اساسي قانون د پلې کیدو د څارنې کمیسیون او همدارنګه د پارلمان د مشرانو جرګې او د ولسي جرګې سکرتریتونه هم لغوه شول. دا په داسې حال کې ده چې زیات شمېر افغانان، سېمه ایز هیوادونه او نړیوالې ټولنې په کرات سره غوښتنه کړي چې د قومي، سیاسي او جغرافیایې تنوع او همدارنګه په دولتي جوړښتونو کې د ښځو ګډون رعایت شي. د سرپرست ۲۵ کسېزه کابینه (۲۱ تنه پښتانه، دري تنه تاجکان او یو تن ازبک)، ۳۴ تنه والیان (۲۷تنه پښتانه، ۴ څلور تنه تاجکان، یو تن ازبک، یو تن ترکمن او یو تن پشه ای) ټول نارینه دي چې مذهبي سابقه او لږه اداری تجربه لري او زیاتره برخه یې د امنیت شورا د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ګڼې پریکړه لیک د بندیزونو په لسټ کې شامل دي.

۵.	ملکي دولتي کار کوونکي، د ښځینه کارکوونکي په ګډون چې زیاتره یې اجازه نلری چې دفترونو کې کار وکړي، لا هم تنخواه ترلاسه کوي. د ۲۰۲۲ کال د مې ترمیاشتې پورې، د ۶۳ بودجوي واحدونو څخه ۶۰ يې، د ۲۳ وزارتونو، ۲۸ عمومي خپلواک ریاستونو او ټول ۳۴ ولایتونه ویلي دي چې تر فبروری تر میاشتې پوری خپل معاشونه ترلاسه کړي دي. د واکمنو چارواکو د عامې روغتیا وزارت، د ملي دفاع وزارت او د ملي امنیت ریاست د خپلو کارکوونکو د تنخواګانو په حواله کولو کې، د ملکي کارکوونکو د تنخواګانو د محدود ظرفیت له امله، ننګونو سره مخ شوي دي

۶.	د بهرني مالي ملاتړ په نشتون کې، ملي بودجه په بشپړ ډول سره د داخلي عایداتو لخوا تمویل کیږي. وروسته له هغه چې د جنوری د میاشتې په ۱۱ نېټه کې اعلان وشو چې ۵۳،۹ میلیارډ افغانۍ (۵۱۸ میلیون امریکایي ډالر) د ۲۰۲۲ کال په لومړي ربعې لپاره، د واکمنو اداری چارواکو د مې د میاشتې په ۱۴ نېټه اعلان وکړ چې د ۱۴۰۱ (۲۰۲۲) مالي کال کې د دوي ملي بودجه ۲۳۱ میلیارډ افغانیو (۲،۶۵ میلیارډ امریکایي ډالر) ته رسیدلې چې له دې څخه ۲۰۳،۴ میلیارډ (۲،۳۳ میلیارډ ډالر) د عملیاتي لګښتونو لپاره او ۲۷،۹ میلیارډ افغانۍ (۳۰۲ میلیون امریکایي ډالر) انکشافي لګښتونو ته بیل شوي دي. همدارنګه اعلان زیاته کړی دی چې د عایداتو ټاکل شوی هدف ۱۸۶،۷ میلیارډه افغاني (۲،۱۴ میلیارډه امریکایې ډالر) و خو اوس بودجه د ۴۴،۷ میلیارډه افغانۍ (۵۱۲ میلیون امریکایې ډالر) کسر سره مخ دی. د اقتصادي پراختیا د پیاوړي کولو لپاره، واکمن چارواکي سوداګریز فعالین او بهرني پانګوالو ته مخه کړي او پر دوي باندې د مالیې ټولول یې تنفیذ کړی چې دواړه ګمرکي تعرفې او مالیه ورکول احتوا کوي.

۷.	واکمن چارواکي یو لړ پالیسي پریکړی ترسره کړي او اعلان کړي چې د اسلام او افغاني دودونو سره مطابقت لري، خو داسې ښکاري چې ځینې یې د مخکینې ډاډ ورکولو سره په ټکر کې قرار لري او د مارچ د میاشتې په ۲۳ نېټه کې د نجونو لپاره د ثانوي زده کړې باندې بندیز اعلان هم دی. د اپریل د میاشتې په ۲۹ نېټه چې د روژې وروسته د کوچنې اختر د لومړي ورځې سره برابره وه د طالبانو مشر هبت الله اخندازده یوه اعلامېه خپره کړه چې په هغه کې، د افغان نارینه او ښځینه ټول شرعي حقونو، چې د واکمنو چارواکو ژمنتیا ته اشاره شوي په ځانګړي ډول اقتصادی پراختیا، امنیت، روزنه او روغتیا پالتې ته د مساوي حقونو او لاسرسي ډاډمن کولو هڅې او همدارنګه د بهر څخه د افغانانو بېرته راستنېدل او د ملي یوالي هڅو ته اشاره شوی دی. همداراز د مې د میاشتې په ۱۱ نېټه د واکمنو چارواکو د لومړی وزیر مرستیال مولوي کبېر د سیاسي شخصیتونو سره د اړیکو کمیسیون لومړي غونډه جوړه کړه چې په هغه کې د یاد شوي کمیسیون دندې او شرایط پکې تصویب شو او د لويې جرګې د رابللو هوډ هم څرګند شو. د مې د میاشتې په ۱۸ نېټه د خواره واره سیاسي مخالیفونو استازی، کوم چې د بیلابیلو قومي ډلو نمایندګي کوي، په ترکیه کې د افغانستان د خلاصون لپاره د ملي مقاومت عالي شورا تر چتر لاندې سره راټول شوي و، پر طالبانو باندې غږ کړي چې د خبر اترو لپاره ځانونه اماده کړي.

۸. د مارچ د میاشتې په ۶ نېټه، وروسته لدې چې ولایتي شوراګان، د علماو او نورو شوراګانو او استازې اداري ملغی اعلان شول، واکمن چارواکي، د اسلامي عالمانو او قومي شوراګانو په ګډون، د عالمانو ولایتي شوراګانې یې رامنځته کړل. د مې د میاشتې د ۱۸ نېټې راپدېخوا په لسو ولایتونو کې (بادغیس، فراه، غور، هرات، کندهار، نیمروز، پکتیکا، پنجشیر، سمنګان او زابل) د عالمانو ولایتي شوراګان جوړ شوي دي. د راپورونو له مخې پورته یاد شوي شوراګانې د حج او اوقاف وزارت تر چتر لاندې دنده لرې چې شریعې نظام پلې کړي، د واکمن چارواکو او ولس ترمنځ باور او اعتماد رامنځته کړي، سېمه ایز شخړې حل کړي او د ولایتي ادارو د فعالیتونو څخه څارنه وکړي.

۹. خو د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو په کچه د واکمن چارواکو لخوا په نورو ډګرونو کې، د ښځو په ګډون، په ځانګړې ډول اقلیت ډلې او د پخوانې حکومت چارواکو سره تعامل محدود پاتې دی. د واکمن چارواکو ولایتي ریاستونه، د امر بلمعروف او نهې عن المنکر په موخه، د کالیو ډول، د جماعت د لمونځونو او په عامه ځایونو کې د جنسیت پر بنسټ جلاوالې او د هغه د څارنې میکانیزمونو په اړه د اضافي شفاهي پالیسي هدایتونه صادر کړي دي. همدارنګه واکمن چارواکي، د هېواد په کچه، پر سوله ایزه مظاهرو باندې، په ځانګړي ډول د ښځو هغه مظاهرې چې په هغه کې د خپل حقونو د رعایت غوښتنه کوي، بندیز لګلوي دي. خو هغه مظاهرې چې د اقتصادی ټولنېز مسلو په اړوند، په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالاتو لخوا د افغانستان د سرمایې په اړوند پریکړه، ترسره کېږي واکمن چارواکي پر هغه باندې په ښکاره ډول سترګې پټه وي. داسې راپورونه هم شته چې یو څو تنه مظاهره چیان چې د طالبانو ملاتړ کوونکې و، مظاهره کړي چې واکمن چارواکي باید په رسمیت وپېژندل شي.

۱۰. د عدلي سیستم جوړښت، سرچېنو او ظرفیت، د محاکمو په ګډون، د محدودیتونو سره، او د پلې کولو لپاره د قانونې چوکاټ نشتون له امله ننګونو سره مخ دی. په نتیجه کې د محاکمو پروسې ځنډېدلې دې چې له امله یې د محاکمې څخه مخکې توقیف شویو کسانو شمېر زیات شوي دي. د عدلیې سرپرست وزیر د اپریل د میاشتې په ۷ نېټه کې د خپل یو مرستیال تر مشرۍ لاندې یو کمیسیون رامنځته او لار ښونه وکړه چې د ټولو موجوده قوانینو بیا کتنه ترسره کړي او د شریعت او افغانې دودونو سره د هغو مطابقت په اړوند سپارتنې چمتو کړي. همداراز د مارچ د میاشتې په ۳۰ نېټه یو بل کمیسیون رامنځته شو تر څو د ځمکو د غصب څخه مخنیوي وکړي او د ځمکو په اړوند لانجې حل کړي. واکمن چارواکي د اپریل د میاشتې په ۲۰ نېټه د ولایتونو او ولسوالیو په محکمو کې، د پخوانې حکومت قضایې پرسونل پر ځای، ۵۸ نوي قضایي کارکوونکې وټاکل چې زیاتره یې د جنوب په حوزه کې و. یوناما د واکمن چارواکو سره په تعامل کې دی تر څو د نړیوال بشري حقونو، نورمونو او معیارونو سره سم د، په ځانګړی ډول عدالت ته د ښځو لاسرسي او د ښځو او ماشومانو د حقونو، د ترویج په برخه کې هڅې وکړي.

۱۱. د واکمنو چارواکو د دفاع وزارت د مې د میاشتې په ۱۵ نېټه اعلان وکړ چې کابو ۱۳۰۰۰۰ تنه سرتېرې د ملي اردو په صفوفو کې ګمارل شوي دي، چې د کابل په مرکزی قول اردو قومندانې په ګډون، په اتو قول اردوګانو کې تنظیم شوي دي. د واکمنو چارواکو د کورنیو چارو وزارت د مشرتابه تر نظر لاندې د پولیس ځواکونو د ګمارلو او روزنې کار دوام لري. د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو کې د مرستیال وزیرانو او تر هغه ټېټ کچو کې د ادلون بدلون چارې په روښانه ښکاره کوي چې د طالبانو مشرتابه هڅه کوي چې خپل قومندانان او ملاتړ کوونکې ځای پر ځای او وګماري. د پخوانې حکومت ټول پرسونل په زیاته پیمانه، پرته له تخنیکي کارکوونکو او متخصص پرسونل څخه، له دندې ګوښه کړاې شوي دي. د امنیتې ارګانونو ښځېنه کارکوونکې، پرته له هغه ښځېنه کار کوونکې چې په توقیف ځایونو کې خدمت ترسره کول او یا په بدنې تلاشېو کې مرسته کول، نور ټول له خدمت څخه لېرې کړای شوي دي. ډیرې سرتېرې چې زیاتره یې په ټیټو کچو کې دنده ترسره کول، یوازې مدد معاشونه ترلاسه کوي، نه میاشتې معاش.

۱۲. د واکمنو چارواکو سره د ملګرو ملتونو د لوړ پوړو چارواکو او همدارنګه د یوناما د مشرتابه لخوا تعامل او ښکېلتیا دوام لري چې په عمومې ډول سره د اساسې حقونو او ازادیو د ساتنې او ملاتړ باندې تمرکز لري، په ځانګړي ډول د نجونو د زده کړې حق او د ښځو د کار کولو او د مساوي مشارکت حق، د یو استازی او ټول شمول حکومتداری رامنځته کول چې د ټول افغان وګړو اشتراک پکې تمثیل شې او د ترهګری د ګواښ سره د مبارزی لپاره کوټلې اقدامات. په ورته حال کې یوناما د اقتصاد

په ډګر کې هم د واکمنو چارواکو سره په اړیکه کې دي او د افغانستان بانک، او نړیوال مالي ادارو او ډونرانو سره خپل کار ته دوام ورکړي تر څو په هېواد کې د سوداګرۍ او مالي فعالیتونه تسهیل شي.

۱۳. یوناما په افغانستان کې د سیاسي او مدني چاپېریال د بدلېدونکي بڼې د ارزونې په موخه د سېمه ایز سولې او عامه پوهاوي نوښتونو پلي کولو کار ته دوام ورکوي. مدني ټولنې او سیاسي فعالین، د دوي پر کار بانديز د لګول شویو محدودیتونو په اړه اندېښنه څرګند کړي، د دفترونو تړل او د شتمنیو ضبط، او د حقونو او آزادیګانو د خوندېتوب، په ځانګړي ډول د ښځو او لږکیو ډلو اړوند په ګډون. همدارنګه ماموریت د ښځو، ځوانانو، دیني عالمانو، د ټولنو مشران او مدني ټولنو سره د ډیالوګ په موخه هم کار کوي چې د ځايي شخړو څخه مخنیوي وکړي او هم د ځايي شخړو د حل لپاره د میکانیزمونه د ودې او ترویج لپاره ملاتړ چمتو کړي.

۱۴. واکمن چارواکي د فبروري د میاشتې په ۶ نېټه یو مفصل پلان خپور کړ چې په هغه کې راغلي و چې دوي به د بشري بېړنۍ مرستو په ویشلو کې د کورني او بهرني سازمانونو د فعالیتونو باندې څارنه او کنټرول وکړي. د اقتصاد وزارت هم د مې د میاشتې په ۷ نېټه کې اعلان کړ چې د بشري مرستو د وړاندې کولو د څارنې په موخه، په ملي کچه کې، یوه کمېټه جوړه شوې ده. پدې اړوند، ملګري ملتونه او مدني ټولنې د بشري اصولو د خوندي کولو او د مدني چاپېریال د ساتلو په اړه د واکمنو چارواکو سره په تعامل کې دي.

**ب: امنیت**

۱۵. امنیتي وضعیت په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې په ۱۵ نېټه کې د واک تر لاسه کولو وروسته په لومړیو وخت کې، د شخړو اړوند پېښو کې خورا کمښت راغلی دی خو امنیتي وضعیت په زیاته پېمانه ماتېدونکي دی. د عراق او شام اسلام حکومت د خراسان ولایت ځانګې وسله والې ډلې د طالبانو سره خپل مخالفت زیات کړي او د راپور په دوره کې خپل وسله وال بریدونو ته شدت ورکړي دی. د واکمنو چارواکو امنیتي ځواکونه هم د بریدونو د ترسره کولو او هم امنیتي تدبیرونو په ترسره کولو سره، د ساري په ډول د عمومي کور په کور تلاشي له طریقه، ځواب ورکړي دي. د تعذیراتو د څارنې ډلې تحلیلي راپور، چې د ۱۵۲۶ (۲۰۰۴) او ۲۲۵۳ (۲۰۱۵) پریکړو لیکونو پر بنسټ د عراق او شام اسلامي دولت (داعش)، القاعده او طالبانو پوري تړلي اشخاص او نهادونه په اړوند داسې څرګند کړي "داسې کومې نښې نښانې نه تر سترګو کېږي چې طالبان په هېواد کې د بهرنیو ترهګرو ډلو او جنګیالیو د فعالیتونو د محدود کولو په موخه ګامونه پورته کړي وي. خو برخلاف ترهګر ډلې د لازیات آزادۍ څخه برخمن دي چې په تېر نږدې وخت کې ساري ندي لېدل شوي." (س/۸۳/۲۰۲۲، پراګراف ۵۷). واکمن چارواکي د دغه تحلیل موندنې رد کړي دي.

۱۶. په ټولېز ډول سره، د ۲۰۲۱ کال د ورته مودې په پرتله د شخړو پوري اړوند امنیتي پېښو او ملکي کسانو په تلفاتو کې کمښت راغلی دی. د ۲۰۲۲ کال د جنوري د میاشتې د لومړۍ نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۲۱ نېټې پور، ملګري ملتونه ټولټال ۲۱۰۵ امنیتي پېښې مستند کړي چې د ۲۰۲۱ د ورته مودې په پرتله دغه شمېره ۱۱۹۴۵ پېښې مستند شوي و چې په پېښو کې ۴۶۷ سلنه کمښت ښکارندوی دی. تر لاسه شوي معلومات ښکاره کوي چې وسله والې نښتې له ۶۴۶۳ پېښو څخه ۱۶۴ پېښو ته راټېټ شوي دي، هوايي بریدونه د ۵۰۸ څخه ۵ ته راټېټ شوي دي، د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي د ۱۱۴۷ چاودنو څخه ۱۲۳ چاودنو ته راټېټ شوی او هدفي وژنې د ۴۶۵ پېښو څخه ۱۲۲ پېښو ته راټېټ شوي دي. خو د خراب اقتصادي او بشري وضعیت له امله د جرمونو پورې اړوند جرمونه په دوامداره توګه لوړ پاتې شوي دي، چې ۴۷۴ پېښې راپور شوي دي چې دغه شمېره د ۲۰۲۱ کال د ورته مودې په پرتله ۵۲۵ پېښې ثبت شوي و. د هېواد لویدیځ، ختیځ او مرکزی او سویلي سېمې د ټولو جرمونو ۶۶ سلنه جوړوي چې له دې امله کابل، کندهار، هرات او ننګرهار ولایتونه تر ټولو زیات متاثر شوي دي.

۱۷. د طالبانو ضد او مخالف وسله والې ډلې حضور پراخ شوی دی که څه هم دا ستونزمن دی چې د دوی عضویت او ځواک و ارزول شي. یوناما آګاهي لري چې په ۱۸ ولایتونو کې لږ تر لږه ۱۲ د طالب مخالف وسله والې ډلې فعالیت لري. د افغانستان ملي مقاومت جبهه او د افغانستان د آزادی جبهه دوه ډیر فعالې ډلې دې چې زیاتره د پنجشیر او بغلان په ولایتونو کې بریدونه ترسره کړي دي. په ورته حال کې د شمالي ولایتونو، بدخشان، تخار، کندز او سمنګان، مرکزی سیمه کاپیسا، پروان او کابل، سویل ختیځ (خوست ولایت) او سویل (کندهار ولایت) هم د بریدونو او نښتو راپور ورکړ شوي دي. یوناما د داسې بریدونو ادعاګانې ندې تایید کړي. طالبان هم اصرار کوي چې دا ډول وسله والې ډلې د دوي ځواک ته کوم د پام وړ ګواښ او ننګونه نه رامنځته کوي. طالبانو د مخالف وسله والو ډلو د دوامداره فعالیت په غبرګون کې د سویل د سرحدې سیمو څخه فعال امنیتي ځواکونه د پنجشیر، بغلان او تخار په ولایتونو کې د ځای پر ځای کولو خبر ورکړی دی.

۱۸. کوم بریدونه چې داعش د خراسان ولایت څانګې ادعا کړي او یا دوي ته منسوب شوي، کم شوي دي. که څه هم د بریدونو جغرافیایي وسعت، پراخ شوی دی. ملګري ملتونه، د جنوري د میاشتې د لومړی نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۲۱ نېټه پوری د یاد شوي ډلې لخوا ۸۲ بریدونه تایید کړي، په داسې حال کې چې دغه شمېره د ۲۰۲۱ کال په ورته موده کې ۱۲۹ بریدونه ثبت شوي و. په عمومي ډول سره دغه ډله ملکي وګړي او په ځانګړي توګه شیعه اقلیت په نښه کړیده. د داعش د خراسان ولایت څانګه د اپریل د میاشتې په لومړي نېټه د هرات ولایت په یوه تفریحې سیمه کې د چاودیدونکو توکو بریدونو، د اپریل د میاشتې په ۲۱ نېټه د مزار شریف په ښار کې د شیعه ګانو پر یو جومات برید، د کندز په ولایت کې د ملکي هوایي چلند دفتر د برحاله کارکوونکو پر مني بس باندی برید، د کابل په ښار کې پر یو امنیتي موټر باندي برید، د اپریل د میاشتې په ۲۲ نېټه د کندز ولایت پر یوه مدرسه باندي برید، د اپریل د میاشتې په ۲۸ نېټه د مزار شریف په ښار کې پر دوو مني بسونو باندي برید، د اپریل د میاشتې په ۳۰ نېټه په کابل کې پر یو مېنې بس باندی برید، او د مې د میاشتې په ۲۲ نېټه د ملا اختر محمد منصور د مړینې د شپږم کلېزې په یاد مراسم باندې برید مسؤلیت په غاړه اخېستی دی. کوم بریدونه چې مسؤلیت یې چا په غاړه ندی اخیستی، او د داعش د خراسان ولایت څانګې احتمالي ګډون شامل دی، د اپریل د میاشتې په ۱۹ نېټه د کابل ولایت په لویدیځ سیمه کې پر دوو ښوونځیو باندې برید، او د اپریل د میاشبت په ۲۹ نېټه کې د کابل ولایت پر یو صوفي جومات باندې برید شامل دي. د واکمنو چارواکو عامه آګاهي پیغامونه په دې لټه کې دې چې عام وګړو ته ډاډ ورکړي چې دوي د هېواد بشپړ کنټرول په لاس کې لري خو په ورته حال کې د بریدونو په ځایونو باندې د خبریالانو لاسرسې باندي محدودیت لګوي او روغتونونو ته هم لارښونه کړې چې د ژول شویو او ژوبل شویو کسانو کره شمېره چاته ورنکړي.

۱۹. د افغانستان پر پولو د تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او نورو سره، په ځانګړی ډول د ایران اسلامي جمهوریت او د پاکستان سره تاوتریخوالي زیات شوی دی. د اپریل د میاشتې په ۸ نېټه د نیمروز په سرحدې ولایت کې د واکمنو چارواکو امنیتي ځواکونو او پاکستاني سرحدې ځواکونو سره د پاکستان د طالبانو تحریک او نورو ممکنه وسله والې ډلې چې په افغانستان کې فعالیت لري، ترمنځ د ترسره شویو نښتو کې زیاتوالي راغلی دی. د اپریل د میاشتې په ۱۶نېټه پاکستان د خوست او کنړ پر ولایتونو باندې هوایي بریدونه ترسره کړې چې له امله یې ملکي وګړو ته تلفات اوښوتي دي. د مارچ د میاشتې په ۷ نېټه د نیمروز ولایت په کنک ولسوالي کې او د اپریل د میاشتې په ۲۳ نېټه د هرات ولایت په اسلام قلعه سیمه کې د واکمنو چارواکو امنیتي ځواکونو او ایراني ځواکونو ترمنځ د اوبو او پولو پر سره نښتې ترسره شوي دي. په نورو رامنځته شویو امنیتي پېښو کې، د اپریل د میاشتې په ۱۸ نېټه د ازبکستان سره په پولو باندي د راکټ برید، چې داعش یې مسؤلیت په غاړه اخیستې دی، د اپریل د میاشتې په ۲۸ نېټه د تاجکستان د سرحدې ځواکونو له خوا په غیر قانوني ډول سره د تاجکستان هېواد ته د ننوتلو پر هڅه کوونکو افرادو باندې ډزی او د دوي نیول او د مې د میاشتې په ۷ نېټه د تاجکستان پر پولو باندې د راکټ برید چې داعش یې مسؤلیت په غاړه اخیستې دی، شامل دي.

۲۰. د واکمنو چارواکو ځواک او لیوالتیا چې د دوي تر کنټرول لاندې د وسلو او مهماتو زیرمې په سمه توګه مدیریت کېږي او که نه، لا هم واضح نده.

۲۱.	د جنوري د لومړۍ نېټې څخه د مې د میاشتې تر ۲۱ نېټې پورې ملګري ملتونه ۱۱۱ داسې پېښې ثبت کړې دي چې په نښه یې پرسونل اغېزمن کړی دی او په هغه کې د ګواښنې ۴۱ پېښې، د جرمونو په اړوند ۳۰ پېښې، اوه د نیولو پېښې، او د ملګرو ملتونو ودانۍ، دفترونه او جایداد اغېزمنکول ۹ پېښې ترسره شوي دي چې د ۲۰۲۱ کال د ورته مودې په پرتله چې یوازې ۵۲ پېښې ثبت شوي و، د پام وړ زیاتوالې ښکارندوی دی.

**ج. سیمه ایزه همکاری**

۲۲.	په سېمه ایزه کچه، طالب واکمن چارواکي، د سېمه ایزو سازمانونو او هېوادونو سره د خپل ډیپلوماتیک او اقتصادې اړیکې ګړندۍ کړې دي. په داسې حال کې چې تر اوسه هېڅ یو هېواد د واکمنو چارواکو حکومت په رسمیت ندی پېژندلی خو د واکمنو چارواکو له خوا ټاکل شوي دیپلوماتان، منلې دې، هغه پروسه چې طالب واکمن چارواکي د رسمیت پېژندل خاموشه پروسه په نوم یادوي.

۲۳.	د جنوري د میاشتې په ۲۹ نېټه د پاکستان هېواد، د هغه وخت د ملي امنیت سلاکار، معید یوسف، د واکمنو چارواکو د لومړی وزیر مرستیال، عبدالسلام حنفي او د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي سره د خبرو اترو په موخه کابل ته سفر وکړ. د راپورونو پر بنسټ په ناستو کې د سوداګرۍ، ټرانزیت او دوه اړخیز سیاسي او اقتصادې اړیکو د پراختیا پر مسلو باندې خبرې شوي دي.

۲۴.	د فبروري د میاشتې په ۲۲ نېټه د واکمنو چارواکو لومړي وزیر ملا محمد حسن آخند د ازبکستان د لومړي وزیر مرستیال او د پانګونې او بهرنې سوداګرې وزیر سردار عمر زاکوف سره لیدنه وکړ تر څو د دوه اړخیزو همکاریو او پراختیایې پروژو د پلې کولو په اړوند خبرې وکړي. ښاغلي عمر زاکوف د مزارشریف – کابل – پېښاور ریل پټلۍ او د سور خان – پلخمري د برېښنا د لېږد لین په ډول پروژو د پیل کولو لپاره د ګامونو پورته کولو غوښتنه وکړه. د فبروري د میاشتې په ۲۳ نېټه ازبکستان د افغانستان لپاره د اروپایې اتحادیې او مرکزی آسیا د څانګړو استازو د غونډې کوربتوب وکړ. په یوه اعلامیه کې ګډونوالو د اروپایې اتحادیې او مرکزی آسیا تر منځ د افغانانو ملاتړ او همدارنګه په سېمه کې د امنیت او ثبات لپاره د همکاری فرصتونه بیا تایید کړل.

۲۵.	د مارچ د میاشتې په ۴ نېټه د اسلامي همکاریو سازمان خپل دفتر په کابل کې پرانیست. د مارچ د میاشتې په ۸ او ۹ نېټه د افغانستان لپاره د دغه سازمان ځانګړی استازي طارق علي بخیت، د واکمنو چارواکو سره د خبرو اترو په مقصد کابل ته سفر وکړ. د مارچ د میاشتې په ۲۱ نېټه د اسلامي همکاری سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو د شورا د ۱۸غونډې په څنډه کې سازمان د افغانستان د بشري مرستو صندوق تاسیس کړ.

۲۶.	د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی امیر خان متقی او د اطلاعاتو او کلتور وزیر خیرالله خیرخواه، د انتالیا د ډیپلوماسي په فورم کې د ګډون لپاره ترکیې ته سفر وکړل. د یاد فورم په څنډه کې د طالبانو پلاوي د ترکیې له ولمشر رجب طیب اردوغان سره ولیدل. دوي د قطر د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبدالرحمن جاسم آل ثاني او د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ځانګړي استازي توماس ویسټ سره هم درې اړخیزه غونډه وکړه تر څو د نورو مسلو تر څنګ د افغانستان د کنګل شویو شتمنیو په اړه بحث وکړي.

۲۷.	د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانګړی استازی ضمیر کابلوف، د مارچ د میاشتې په ۲۴ نېټه کابل ته سفر وکړ تر څو د ښاغلی متقي او د کورنیو چارو وزیر سراج الدین حقاني سره لیده کاته وکړي. د راپورونو پر بنسټ دوي د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا او د افغانستان سره د مسکو د همکارۍ د پراختیا په اړه بحث وکړ. ښاغلی ضمیر کابلوف د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزی سره هم ولیدل.

۲۸.     د مارچ د میاشتې په ۲۴ نېټه د چین د هېواد د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي کابل ته سفر وکړ چې د لومړي وزیر مرستیال ښاغلی عبدالغني برادر  او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی مقتي سره وګوري. د چین د بهرنیو چارو وزارت یوه اعلامیه خپره کړې چې په هغه کې د افغانستان لپاره د چین د هېواد ملاتړ، د یو ټول شموله حکومت د جوړولو لپاره هېله او په افغانستان باندي د سیاسي فشار او اقتصادي بندیزونو سره مخالفت څرګندوي. د واکمنو چارواکو په وینا، د چین هېواد د کانونو او نورو اقتصادي پروژو کې پانګونې ته چمتوالې ښودلی دی.

۲۹.     د مارچ د میاشتې په ۲۸ نېټه او د اپریل د میاشتې په ۲۵ نېټه ښاغلي متقي د طالبانو د یو لوړ پوړي پلاوي سره یو ځای په دوحه کې د قطر د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزارت وزیر محمد بن عبدالرحمن بن جاسم آل ثاني سره ولیدل. د دوي تر منځ بحثونه په سیاسي او اقتصادی مسلو برسیره د کابل هوایي ډګر پر عملیاتو باندي متمرکز و. ښاغلی متقي د اپریل د میاشتې په ۳۰ نېټه د قطر د هېواد د ټولنیزې پراختیا او کورنې له وزیرې، مریم المسند سره هم وکتل چې د افغانستان خلکو ته د بشري مرستو رسولو کې خپل د هېواد چمتوالې وښودله.

۳۰.     د چین هېواد د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د دریمې غونډې کوربه و چې د مارچ د میاشتې په ۳۰ نېټه جوړه شوه او په هغه کې د روسیې فدراسیون او افغانستان هم ګډون کړی و. ګډوکوونکو په یوه مشترکه اعلامیه کې په افغانستان کې د خبرو اترو له لاري د ملي پخلاینې اهمیت، د پراخ بنسټه او ټول شموله حکومت جوړول، د افغانستان او ټولو هېوادونو ترمنځ دوستانه روابط، په ځانګړي ډول سره د ګاونډیو هېوادونو سره، او د بشري مرستو په چمتو کولو کې د ملګرو ملتونو ونډه باندې ټینګار وکړل. د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو د پراخې دري اړخیزی غونډې په څنډه کې یوه بله غونډه هم جوړه شوه چې پکې د چین د هېواد او پاکستان د بهرنیو چارو وزیران د متقي سره خبري وکړي او په ترڅ کې یې ښاغلی متقي د یو کمربند یو سړک د نوښت څخه خپل ملاتړ څرګند کړ.

۳۱.     د اپریل په میاشت کې د ایران په اسلامي جمهوریت کې د افغان کډوالو سره د ناوړه چلند ادعاګانې چې په ټولنیز رسنیو کې خپور شوي و، او همدارنګه د اپریل د میاشتې په ۱۱ نېټه په کابل کې د ایران سفارت او په هرات ولایت کې د ایران د قونسلګري مخ ته د تاوتریخوالې څخه ډک لاریونونو وروسته، دیپلوماتیک اړیکې او فعالیت زیات شول. د اپریل د میاشتې په ۱۹ نېټه او د مې د میاشتې په لومړی نېټه د ایران د بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان او ښاغلي متقي په ټلیفوني خبرو کې د ایران په اسلامي جمهوریت کې د افغانانو د وضعیت او په افغانستان کې د ایران د ډیپلوماتیکو ماموریتونو د خوندیتوب په اړه یو بل سره خبري وکړل. د مې د میاشتې په ۱۲ نېټه کې ایراني چارواکې او واکمن چارواکو د ایران په طیب اباد کې سره خبرو ته کیناستل او هوکړه وکړل چې د دواړو هېوادونو امنیتي ځواکونو تر منځ همغږی زیات کړي.

۳۲.     د مې د میاشتې په ۲۴ نېټه په کابل کې واکمن چارواکې د متحد عرب امارات میشت شرکت (ګاک سلوشنز) سره د افغانستان په نړیوال هوایي ډګرونو کې د ځمکني خدماتو چمتو کولو اړوند یو تړون لاسلیک کړل. د راپورونو پر بنسټ د قطر او ترکیې د هېوادونو سره د لا زیات جامع خدماتو په اړه خبري دوام لري.

**بشري حقونه**

۳۳.     له دې سره سره چې د واکمنو چارواکو له خوا داډ ورکړل شوي و چې د پخوانې حکومت اړوند کسان او امنیتي ځواکونه د بشپړ عمومي عفوي څخه برخمن دي، یوناما په دوامداره توګه د وژنې، اجباري ورکیدنه او نور د تاوتریخوالې څخه ډک کړنې معتبر تورونه ترلاسه کړي دي، او د دغو کسانو برسېره د ملي مقاومت جبهې او د داعش د خراسان ولایت ځانګې اړوند کسان هم شامل دي. د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا مې د میاشتې تر ۲۲ نېټې پوري یوناما کابو ۴۰ غیر قانوني وژنې، د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه ۳۰ قضیې او شاوخوا ۸۰ د ناقانونه نیونې او توقیفول په دغه کټګوري کې ثبت کړي دي. په دغه کې د واکمنو چارواکو له خوا ملي مقاومت جبهې په تړاو د تورن کسانو لږ تر لږه ۱۰ د وژنې قضیې ثبت کړي دي، چې د تېر راپور د مودې په پرتله کې د پام وړ زیاتوالې ښیي.

۳۴. د واکمنو چارواکو د امر بلمعروف او نهي عن المنکر وزارت د واده څخه مخکې د اړیکو، د شرعی لباس، په جماعت کې ګډون او د ساز او آواز اړوند د پام وړ قوانین او لارښونې پلې کول زیات کړي دي. یوناما د واکمنو چارواکو له خوا د هغو کسانو په وړاندې ظالمانه، غیر انساني او د سپکاوي څخه ډک چلند او سزاګانې او غیر قانوني وژنې ثبت کړي دي، چې د واکمنو چارواکو لخوا د دا ډول قوانین او لارښونې د نه مراعت کولو په تور ترسره شوي دي. پدې کې لږ ترلږه اوه ناقانونه وژنې ترسره شوي (پنځه تنه ښځې، دوه تنه نارینه) شامل دي چې د واده څخه بهر اړیکو په تور تورن شوي و، او لږ تر لږه ۳۰ د ظالمانه، غیرانساني او سپکاوې سزاګانې لکه په عام منظر کې په درو وهل، وهل ټکل او لفظي سپکاوي ثبت شوي دي.

۳۵. که څه هم د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې څخه وروسته چې طالبان واک تر لاسه کړل، د ملکي وګړو په تلفاتو کې د پام وړ کمښت راغلی دی، خو د جنوری د میاشتې له لومړی نېټې څخه یوناما د بریدونو له امله ۸۰۱ ملکي وګړو تلفات ثبت کړی دی (۲۷۵ تنه وژل شوي او ۵۲۶ تنه ژوبل شوي دي)، د دغه شمېرې کابو نماېي د اپریل د میاشتې د ۱۷ تر ۲۹ نېټې پورې د په لاس جوړ چاودیدونکي توکي د بریدونو څپه چې په کابل، کندز او مزار شریف ولایتونو کې او د خوست او کنړ په ولایتونو کې د پولو هغه خوا هوایي بریدونو له امله رامنځته شوي دي، شامل دي. د جګړو څخه پاتې شوي چاودیدونکې توکي هم د ملکي وګړو د تلفاتو لامل شوي چې له امله یې ۵۱ تنه وژل شوی او نور ۷۶ تنه ژوبل شوي دې چې ماشومان د دغو تلفاتو درې څلورمه برخه جوړوي.

۳۶. د بشري حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د ګواښونې، په خپل نیول، په توقیف کې د بهر سره اړیکه نه درلودل او ناوړه چلند سره مخ شوي دي. د جنوري په میاشت کې د مدني ټولنې یوه فعاله ښځه په ډزو ووژله شوه. د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې راپدیخوا یوناما د بشري حقونو د مدافعینو د خپل سر نیول ۲۷ ثبت، او اووه د ډارونې او ګواښنې قضیې ثبت کړي چې د واکمنو چارواکو د افراد له خوا ترسره شوي دي. خبریالان او د رسنېو کارکوونکي هم په نښه شوي دي، چې ۵۴ د خپل سر نیول او ۲۷ د ناوړه چلند او ګواښونې قضیې ثبت کړي دي چې ټول یې واکمنو چارواکو ته منسوب شوي دي. د وهل او ټکول څلور قضیې هم ثبت شوي دي چې هېڅ لورې ته نسبت ندی ورکړ شوی.

۳۷. واکمنو چارواکو په زیاته پیمانه بشري حقونه، د ساری په ډول د سوله ایز اجتماع آزادی او د نظر د بیان آزادی منع کړي، د سیاسې نارضایتې سره مخالفت لري او په هېواد کې مدني چاپېریال یې هم محدود کړی دی. د واکمنو چارواکو د استخباراتو عمومي ریاست له خوا د ژورنالیستانو، د بشري حقونو د مدافعینو او لاریون کوونکو په خپل سر نیول او د اوږدې مودې لپاره، پرته له دې چې د بهر سره اړیکه ولري، په توقیف کې ساتل، د رسنیو پر آزادی او مدني چاپېریال باندې ناوړه اغیزه درلوده. د دې سربېره خبریالان په منظم ډول سره د پېښو او یا سوله ایزو لاریونونو د پوښښ ورکولو څخه منع شوي دي. همداراز واکمن چارواکي څو نړیوال خپرونکي پروګرامونه هم له خپرونې څخه منع کړي دي او د بهرنیو محتوا لرونکي پروګرامونه او تلویزیوني سریالونو خپرول هم بند کړي دي. په زیاتو ولایتونو کې د مدني ټولنو فعالینو او د بشري حقونو مدافعین، د پایلو د وېرې له امله، خپل فعالیتونه په لویه کچه بند کړي دي. ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکي، په دې خاطر چې د رسینو د نوی چاپېریال سره ځانونه عیار کړي، ځان سانسورې ته مخه کړي، دا په داسې حال کې ده چې رسنې لا دمخه د دوامداره ستر مالي ننګونې په خاطر د رسنیو په تړلو سره د رسنیو چاپېریال کوچنې کړی دی.

۳۸. د واکمنو چارواکو له خوا د یو شمېر فرمانونو په نافذولو سره په ځانګړي ډول د افغان ښځو او نجونو باندې ناوړه اغیزه کړي ده. د څو میاشتو د تړلو وروسته، د فبروري په میاشت په ټول هېواد کې پوهنتونونه د دواړه ذکور او اناث طبقې لپاره بیا پرانیستل شول. د مارچ د میاشتې په ۲۳ نېټه کله چې ښوونځې د نوي تعلیمي کال په درشل کې و، په کندهار کې د کابینې د یو غیر رسمي ناستې وروسته د طالبانو مشر اعلان وکړ چې د نجونو لپاره ثانوي زده کړې بند دي او په دې سره په ټول هېواد کابو ۱.۱ میلیون نجونې د ثانوې زده کړې څخه محروم شول، چې دوي د ماشوم د واده کولو په ګډون، د ناوړې ګټې اخیستنې د ګواښ سره هم مخ کړي دي. پر دغه اعلان باندې په ټول هېواد کې د مدني ټولنې د فعالینو، ښوونکو او زده کوونکو له خوا اعتراض شوی دی او د مذهبي عالمانو له خوا رد شوی دی او د واکمنو چاراوکو څخه وغوښتل شول چې دا پریکړه دې بېرته

واخیستل شي. د نا تایید شوي راپورونو پر مبنی د دغه بندیز سره سره، او لږ تر لږه د سېمه واکمن چارواکو په چوپتیا سره او په ځېنو مواردو کې په ۹ ولایتونو کې د نجو دولتي او خصوصي لېسې پرانیستل شوي دي. حتی په ځېنو سېمو کې چېرته چې مکتب ته تلل هم مجاز و، ماشومان د اقتصادی ستونزو، د ښځو د شرعي مناسب لباس او په عامه ځایونو کې د دوي پر تګ راتګ بندیز لګېدلې و، ښوونځي ته ندي تللي. ملګري ملتونه د ټولني پر بنسټ لومړني زده کړې فعالیت پراخ کړی دی، په ځانګړي ډول په هغو سېمو کې چې هلته عامه رسمي ښوونځي نشته او لاسرسي ورته سخت دی. د پوهنې وزارت کابو ۷۰۰۰ خالي بستونه اعلان کړي دي چې ښوونکي او اداري کار کوونکې په دنده وګماري چې پدې کې کابو ۲۷۷۷ بستونه د ښځو لپاره ځانګړی شوي دي.

۳۹. د مارچ د میاشتې راپدېخوا، د ښځو ډلو په زیاته پیمانه په داخلي غونډو او د ټولنيزو رسنیو له لاري د خپل حقونو د ملاتړ په خاطر، فعالیت ته لاس پکار شوي دي. د مارچ د میاشې د ۲۵ نېټې راپدېخوا، ښځې د نارینه محرم څخه پرته بهر ته د سفر کولو څخه منعه شوي دي او د مارچ د میاشتې د ۲۷ نېټه په عامه ځایونو کې، لکه پارکونو کې د ښځو لپاره جلا ځاې ټاکل پلې شوی دی. د متشبثېنو او سوداګري فعالیتونو د چلونکي په صفت د ښځو تشبث او اقتصادي مشارکت کوچني پاتې دی، که څه هم د هرات په ولایت کې، په استثنایي توګه، د ښځېنه متشبثېنو او سوداګریز فعالیتونو د چلونکو په توګه ملاتړ لپاره او اسلامي ارزښتونو سره سم د یو جامع چوکاټ رامنځته کولو او پلي کولو لپاره هڅې رواني دی. ښځو ته اجازه ورکړ شوی چې یوازی په تعلیم، روغتیا او بشري سکتور کې تر یوه حده زده کړه وکړي او د کابل هوایي ډګر او زندانونو کې کار وکړي. د مارچ د میاشتې په ۲ نېټه ښځېنه ملکي کارکوونکي او د پوهنتون ښځېنه محصلېنو ته لارښونه شوي چې حجاب رعایت کړي (د سر او ټول بدن پوښل رعایتکول) چې د هغې پرته د پوهنتون څخه وایستل شي. د مې د میاشتې په ۷ نېټه واکمن چارواکې یو حکم صادر کړ چې له مخې ټولو ښځو ته لارښودنه وکړه چې په عامه ځایونو کې حجاب واغوندي. په حکم کې په واضح ډول سره ویل شوي چې د سترګو پرته خپل مخ پ بشپړ ډول سره پټ کړي او یوازی د اړتیا په صورت کې له خپلو کورونو څخه ووځي. همداراز په حکم کې مشخص شوي دي چې که ښځې د دې د لارښونو څخه سرغړونه وکړي د دوي نارینه خپلوانو ته سزا ورکړل شي. دغه حکم په افغانستان کې دننه او په نړیواله کچه غندنه راپاروله. د افغانستان او همدارنګه د بهرنیو هېوادونو د ښځو یو شمېر استازو بیانونه خپاره کړل چې حجاب لا دمخه په ښه توګه رعایت شوی دی او په اقتصادي، امنیتي، تعلیم او روغتیا ډګرونو کې د واکمنو چارواکو پاتې راتلل وغندل.

۴۰. د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې، د ساري په ډول وژنه، جنسي تېري او جنسي تاوتریخوالي او نور ډولونه، ځان وژنه، جبري واده، برید او وهل او ټکول راپورونه پر له پسې دوام لري. کورني تاوتریخوالي او د هغه اړوند زیانونه نور هم زیات شوي دي ځکه چې زیاتره ښځې او نجونې په کور کې پاتې دي. د مالي خپلواکې عمومي نشتوالي او د محرم اړتیا پوره کولو بر سېره، په داسې قضیو کې د ښځو لپاره عدالت ته لاسرسي، د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي په وړاندي د وقف شوي دفترونو بندیدل، او په پولیسو، څارنوالي او محکمو کې د مسلکي پرسونل د نشتوالي، چې د داسې شکایاتو راپورونو ترلاسه کولو او په دوران اچولو لپاره عمل وکړي، له امله اغیزمن کیږي. کله چې د ښځو او نجونو په وړاندي د تاوتریخوالي راپور وکړ شي، د دې پر ځای چې په رسمي محکمو کې د جرمي مسلې په ډول حل شي، قضیه شخصي حل ته راجع کیږي او یا د دودیزو میکانیزومونو له لارې حل کېږي چې اکثراً د ښځو په وړاندي تبعیض کوي. په ۲۰۲۱ کال په ټول افغانستان کې د ښځو د امن خونو څخه راټول شوي قربانیانو لپاره، په نوي ډیزان او طرحې سره جوړ شوي دوه د ښځو د خوندیتوب خونې بیا پرانیستل شوي دي.

۴۱. په داسې حال کې چې د ځمکنیو جګړو او هوایي بریدونو له امله د ماشومانو په تلفاتو کې د پام وړ کمښت راغلی دی، خو وسله واله شخړي ماشومانو ته ستر زیانونه اړولې دي. د ماشومانو د مرګ ژوبلې اصلي لاملونه د جګړې څخه پاتې ناچاوده توکې دې چې ۷۰ سلنه د ماشومانو د تلفاتو لامل دی او ځان مرګي بریدونه او د فشاری ناچاودو توکو پاتې شونې، د ماشومانو د تلفاتو ۲۵ سلنه جوړي. د روان اقتصادی ناورین او بې روزګاری له امله رامنځته شوي بې وزلي هغه اصلي عوامل دې چې ماشومان د وسله والو ډلو سره، د طالبانو په ګډون، یو ځای کیدو ته اړ باسي. د همدې واقعیت له امله د ماشومانو په کار

ګمارل زیات شوی دی، او اوس مهال واکمن چارواکي ماشوم هغه فرد خطاب کوی کوم چې له ځانه د بلوغت فزیولوژیکي نښې نه ښکاره کوي.

۴۲. د اپریل د میاشتې په ۳۰ نېټه د زندانونو او توقیف ځایونو د تفتیش او د بندیانو د دوسیو د بیاکتنې کمیسیون د ورته سیمه ایزو رامنځته شویو ادارو سره یو ځای، کابو د ۱۳۰۰ تنه بندیانو خوشې کولو امر ورکړی دی. نږدې ۱۰۰۰ تنه نور بندیان، په مخدره موادو روږدو کسان په ګډون د کوچنې اختر په مناسبت خوشې شول.

۴۳. د جزایي سیستم، د محدود تمویل او د محاکمې څخه دمخه د بندیانو د قضیو د حقوقي جریان کې د ځنډ له امله، دوامداره ننګونو سره مخ شوی دی. په داسې حال کې چې د واکمن چارواکو د عدلیې وزیر تایید کړې چې مدافع وکیلان کولای شي خپل کار ته دوام ورکړي، او د چلند په قانون کې تصریح شوي دی چې توقیف شوي کسان حق لري چې مدافع وکیلان ولري، مدافع وکیلان راپور ورکړي چې دوي په توقیف خانو کې د خپل موکلانو سره په لاسرسي کې د ستونزو سره مخ دي او په ځینو سېمو کې دوي اکثراً د واکمن چاراوکو د طالب قضایانو په وارندي په قضایي ناسته کې له پامه غورځول کیږي. د واکمن چارواکو قضایان حقوقي روزنې نه دې ترسره کړي، قضایي او یا تحقیقاتي تجربه نه لري او یا بې سواده دې او دوي زیات شمېر قضایا غیر رسمي عدلي میکانیزمونو ته سپاري. د دارالتأدیب په سیستم کې توقیف شوي او بندي شوي کسان حقوقي استازو ته لږ لاسرسي لري چې دا په خپله د قضایي استماع په وخت کې پر دوي باندې ناوړه اغیزه کوي. د نورو نیول شویو کسانو په څېر، ماشومانو سره هم ډېری وختونو قانوني پروسې د دوي د حقونو د درناوي پرته ترسره کیږي، زیات مدافع وکیلان د مراهق کسانو سره او یا د دوي د کورنې د غړو سره اړیکه نه لري. د ماشومانو لپاره ډېری زندانونه او توقیف خونې، د خوړو، مناسب سرپناه، تعلیمي او یا مسلکي ملاتړ په ګډون اساسي خدمتونو ته لاسرسی نه لري. د ماشومانو لپاره د ملګرو کارمندان، ټولنیز کارمندان او مشاورین او یا د څارنې لپاره یو منظم سیستم شتون نه لري چې په بندیخانو کې د ماشومانو خوندیتوب ډاډمن کړي، کوم چې ماشومان د احتمالي ناوړه ګټې اخیستنې ګواښ سره مخ کوي.

۴۴. مالي محدودیتونه او د پخواني ډونرانو د تمویل بندول، د توقیف شویو کسانو په وضعیت باندې ناوړه اغیزه کړی ده، چې په هغه کې د بندیانو د خوړو، طبي درملنې، په ژمي کې د سونګ مواد او د مذهبي تعلیماتو بر سېره، مسلکي روزنه پکې شامل دي. واکمن چارواکي د یوناما څخه غوښتنه کړي چې د اړتیاو په رسولو کې د دوي سره مرسته وکړي او د زیانمندیدونکو بندیانو سره په استثنایي ډول بشری مرستې چمتو کړی.

**اقتصادي پراختیا، د ډونرانو همغږي او د مرستو اغیزمنتوب**

۴۵. شته اقتصادي ډېټا تاییدوي چې د طالبانو له خوا د واک تر لاسه کولو وروسته، مالي ضربه (شاک) او همدارنګه روان نقدینه ګي ستونزي او د اقتصادی بندیزونو د اغیزو سره په پام کې نیولو سره، د افغانستان اقتصاد په پراخه پېمانه کمزوری شوی دی. د نړیوال بانک په حواله، طالبان د واک د تر لاسه کولو راهیسې، د لسو میاشتو په موده کې د افغانستان د اقتصاد د ۱۵ کلنه اقتصادي وده له لاسه ورکړې ده. د ۲۰۲۱ کال په وروستي برخه کې د چټک کمښت وروسته، د ۲۰۲۲ کال په لومړي ربعه کې د سترو اسعارو په مقابل کې افغاني لوړه شوه چې په زیاته پیمانه د بشری مرستو د راتګ او د وارداتو او پانګې د وتلو د کنټرول له امله و. سره له دې هم د لومړنیو اړتیاو بیې د تېر کال په پرتله تر زیاته کچه لوړه پاتې ده. د راپورونو له مخې بې وزله کورنې د ژوندي پاتې کیدو لپاره خپل شتمنې پلوري او یا ډېر پور اخېستې دي. د هر درې تنه سوداګرو څخه یو تنه راپور ورکړی چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې راپدیخوا په مؤقت ډوله سره خپل سوداګریز فعالیتونه بند کړي دي چې په پایله کې د غیر فعال پورونو لوي شمېر پر پانګې سیستم باندی فشار راوړي. شرکتونه او کورنۍ د بانکي حسابونو څخه د نغدو پیسو په لاسرسي کې د ننګونو سره مخ دي. اټکل کیږي چې د ۲۰۲۲ کال په دوهم ربعه کې نږدې ۷۰۰۰۰۰ دندې له لاسه ووځي. د نړیوال په مرستو کې کمښت، بندیزونه او نړیوال تادیاتي سیستمونو ته محدود لاسرسی، د دوامداره اقتصادي بیارغونې لپاره لږ محرکونه شتون لري. د جنوري د میاشتې په ۱۹ نېټه د افغانستان واکمن چارواکي د افغانستان اقتصاد کنفرانس په کابل کې رامنځته کړ چې دوي پکې د منځ مهاله مودې لپاره د ځای بسیاینې تر لاسه کولو په مقصد خپل لېد وړاندي کړل چې تمرکز یې زیاتره پر

بشري او پرمختیايي سکتور، نړیوال بودجوي مرستې، د عاید رامنځته کول، کاري فرصتونه رامنځته کول، خدمات وړاندیکول او خصوص سکتور باندی دی. د افغانستان د بیا رغونې وجهې صندوق د تعلیم، روغتیا، کرنې او معیشت په برخو کې د اساسې بشري اړتیاو لپاره ۶۰۰ میلیون امریکایي ډالر وقف کړي دي. د پوهنې په برخه کې د واکمنو چارواکو د پریکړی له امله چې د اووم ټولګي پوري زده کړه منعه کړي، ځنډیدلي دی.

۴۶. یوناما خپل د همغږی هڅې پر ډیر زیات منقبض شوي اقتصاد او د بانکي او مالي بحران په وړاندي مبارزه باندې متمرکز کړی دی. یوناما د بانکي او اقتصادی بحران د کمولو په خاطر د امریکا د متحده ایالاتو د خزانې وزارت د بهرنیو شتمنیو د کنټرول دفتر سره په دوامداره توګه په تماس کې دی. یاد شوي دفتر د فبروري د میاشتې په ۲۵ نېټه کې یو اضافي عمومي جواز خپور کړ چې اجازه ورکوي د افغانستان سره ټولې معاملې، د سوداګریزو انتقالاتو معاملې په ګډون، ترسره شې، په استثناء د هغو معاملو چې پر هغو افرادو باندې کوم چې تعزیرات وربانديې وضعه شوي، د دوی د مالي وجهو انتقال پکې شامل نه وي. یوناما د افغانستان د مرکزی بانک د شتمنیو د خلاصون لپاره ملاتړ چمتو کوي او په دې برخه کې د ملګرو ملتونو ملاتړ وړاندیز يې هم کړی دی.

۴۷. د ملګرو ملتونو له خوا د بشري عملیاتو پخاطر افغانستان ته د نغدو پیسو انتقال، د رامنځته شوي لېکې له لاري، خپل فعالیت ته دوام ورکوي. د ۲۰۲۱ کال د دسمبر د میاشتې د لومړي نېټه، کوم چې لومړي نغدې پیسې انتقال شو، د مې د میاشتې تر ۹ نېټې پورې، ملګري ملتونه ۸۲۵.۶ میلیون امریکایي ډالر نغدې پیسې انتقال کړي دي. یاد شوي مالي وجهې په مستقیم ډول سره د ملګرو ملتونو ۱۹ موسسو، وجهو او پروګرامونو، نړیوال بانک او په افغانستان کې پر ۱۵ نړیوال غیر دولتي سازمانونو باندي ویشل شوي دي. د یاد شویو نغدو پیسو لېږد د افغانیو په ثبات کې مرسته کړي او اقتصادي فعالیتونو ته یو څه خوځښت ورکړی دی. همداراز یوناما د افغانستان د برېښنا شرکت څخه په مرکزي آسیا کې د برېښنا د عرضه کوونکو ته د ځېنو پاتې پیسو ورکړه هم آسانه کړې چې له امله یې د بریښنا د بندیدو څخه مخنیوی کړی دی.

۴۸. ملګري ملتونه د بشري مرستو برسېره، د لومړني اړتیاو د پوره کولو او د بیا رغونې او د ټولنې د انعطاف د لوړولو لپاره خپل هڅو ته دوام ورکړی دی. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د انتقالي تعامل چوکاټ چې د جنوري د میاشتې په ۲۶ نېټه کې پیل شوی دی، ټولټال ۸ میلیارډ امریکایي ډالرو ته اړتیا لري چې له دې جمعې څخه، ۴.۴۴ میلیارډ امریکایي ډالر د ژوند ژغورنې بشري مرستو لپاره، ۳.۴۳ میلیارډ ډالر د اساسې بشري اړتیاو د حل لپاره او ۲۰۸ میلیون امریکایي ډالر د ټولنیز پانګو او د ټولنې په کچه د سیسټمونو د خوندیتوب لپاره وقف شوي دي.

۴۹. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ادارو تر منځ ځانګړی وجهې صندوق د انتقالي تعامل لپاره یو مهم مالي پلاټ فورم په توګه پاتې دی چې تر دې دمه ۹۲.۵۴ میلیون امریکایي ډالر مالي مرسته ترلاسه کړی دی. پلي کوونکي فعالیتونه چې د جنوری د میاشتې په لومړي نېټه کې پیل شوی دی، د ځايي ټولنو اساسې بشری اړتیاوي په خاطر، اړین خدمتونو، معیشت، د ټولنو انعطاف، ټولنیز انسجام، او د بشرپالنې د فعالیتونو د بشپړ کولو په عرصو کې رسیدګي کړي. د رسیدګي د یوې برخې په ډول، ټولټال ۸ سېمه ایز پروګرامونه په پام کې نیول شوي دي.

۵۰. ملګري ملتونه د خپل شریکانو په همکاري سره د افغانستان لپاره د مرستو یو نوي جوړښت رامنځته کړی تر څو د ټولو ډونرانو او د ملګري ملتونو پلې کوونکو ادارو سره اغیزمنه همغږی ډاډمن کړي. د نوي جوړښت په ځانګړتیاو کې، د څارنې پایلو او اغیزې، د ګواښ د مدیریت لپاره د سیستم په کچه ربعوار همغږي، او د ټولو څو اړخیزو مالي تمویل میکانیزمونو سره د بیاکتنې غونډې، او د یو پراخ ډونر ډلې همغږی باندی ځانګړي ټینګار، شامل دي. د ستراتېژیکو موضوعاتو د ډګرونو تشخیص په مقصد، د افغان مدنې ټولنو، خصوصې سکتور او سېمه ایز هېوادونو سره د تعامل په موخه د میکانیزمونو رامنځته کولو لپاره کار دوام لري.

۵۱.	په افغانستان کې د ارزونې او بلقوه اداری فساد او درغلې په وړاندي د غبرګون تحلیل په ګډون، د ګواښ مدیریت په تګلارو کې ترویج شوی پرمختګ تر لاسه شوی دی. د ملګرو ملتونو د سیسټم پراخ کاری ډلې د خپلو ادارو ترمنځ د ډیالوګ، همغږي او د معلوماتو شریکولو په مقصد د اوسنې ګواښ مدیریت چوکاټونه، د ارزیابۍ موجوده وسایل، جوړښتونو او میکانیزمونو ارزونه ترسره کړې. د ملګرو ملتونو د موسسو کاري ډله د مخ شوي عام ګواښونو د پېژندلو او ارزولو پروسه پیل کړې، په ګډون د مرستو د انحراف، او همدارنګه د اقداماتو کمول چې په منظم ډول سره تر بیا کتنې لاندي به ونیول شي.

**بشري مرسته**

۵۲.	بشري مرستو ته اړتیا ورځ تر بله مخ په پراخیدو دی، دا له دې امله چې هېواد په ګډه د لسېزو جګړو، دوامداره وچکالۍ او په زغرده منقبض شوي اقتصاد سره په کلکه ځپل شوی دی. کابو ۲۴.۴ میلیون وګړي او یا د اټکل شوي نفوس ۵۹ سلنه په ۲۰۲۲ کال کې بشري مرستو ته اړتیا ولري، چې دغه شمېره د ۲۰۲۱ کال په پیل کې ۱۸.۴ میلیون وګړی اټکل شوي و. د ۲۰۲۲ کال د جنوري څخه بیا د اپریل د میاشتې تر پایه پوري، د بشرپالنې مرستو شریکانو ۱۹.۹ میلیون وګړو ته لږ تر لږه بشری مرستې او یا یو ډول بشري مرستې رسولې دي چې په هغه کې ۱۹.۳ میلیون وګړي زیانمنېدونکي وګړي دې چې بشري مرستو ته اړتیا لري. ۳۵۲۰۰۰ تنه د پولې هاخوا بېرته راستنېدونکي، ۱۰۱۰۰۰ کډوال او ۹۵۰۰۰ نور خلک چې د نېزونو او د اقلیم د بدلون له امله اغېزمن شوي دي. کابو ۱۸.۹ میلیون وګړو ته خواړه، ۴.۷ میلیون وګړو ته روغتیایې پاملرنه، ۳ میلیونه د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو او میندارو او شېدې ورکوونکې مېرمنو ته د شدید خوارځواکې درملنه، ۳.۳ میلیون خلکو ته د اوبو، روغتیا پالنې او حفظ الصحې مرستې، ۳۷۴۰۰۰ ماشومانو ته د زده کړې ملاتړ، ۱.۲ میلیون وګړو ته د سرپناه او کورنې توکو مرسته او ۲.۱ میلیون وګړو ته د خوندیتوب مرستې او ملاتړ چمتو شوي دي.

۵۳.	په افغانستان کې د لومړې ځل لپاره د افغان ښځو مشورتې ډله جوړه شوي چې د هېواد په کچه د بشري مرستو ډلې ته مشوره ورکړي چې څنګه د ښځو او نجونو ځانګړي اړتیاو ته په ښه توګه ځواب ووایې او همدارنګه په مرکزی او ولایتي کچو کې د طالبانو سره د بشرپالنې د ټولنې سره تعامل لا پسې ښه کولو کې مشورې ورکړي. د لوړې کچې کنفرانس چې د مارچ د میاشتې په ۳۱ نېټه کې جوړه شوه، د ۲.۴ میلیارډ امریکایې ډالر ژمنه ترلاسه کړی دی. په هر حال د یاد شوی ژمنې زیاتره برخه، د ۲۰۲۲ کال او تر هغه وروسته، په ګاونډې هېوادونو کې د افغان مهاجرینو لپاره او همدارنګه د تېر وخت، اوسنې او راتلونکې وخت د یو ګډ ترکیب تمویل ژمنه وه. د مې د میاشتې تر ۲۳ نېټې پوري د بشرپالنې د غبرګون پلان د غوښتنې په مقابل کې یوازی ۳۰ سلنه ځواب ورکړ شوي او شا خوا ۳ میلیارډ امریکایې ډالر کمښت لري.

۵۴.	کابو ۱۹.۷ میلیون وګړي، چې په افغانستان کې د نفوسو نیمایې جوړوي، د شدید خوراکې خوندیتوب سره مخ دي، د ملګرو ملتونو د خوړو د خوندیتوب د پړاونو د طبقه بندې یو موتې تحلیل ورستنې راپور څرګنده کړی دی. کابو ۶.۶ میلیون افغان وګړي د خوړو د خوندیتوب د بېړنې کچې سره مخ دې، چې دغه شمېره اوس مهال په مطلق ډول په ټول نړۍ کې تر ټولو لوړه شمېره ده. وړاند وینه داسې ده چې د ۲۰۲۲ د جون د میاشتې څخه بیا د نومبر تر میاشتې پوري د خوړو د خوندیتوب په وضعیت کې یو څه ښه والې راشي او د هغو خلکو شمېر چې د خوړو د شدید کمښت سره مخ دې د ۱۸.۹ میلیون وګړو څخه به لږ راټیټ شي. دا په جزوي ډول د مې د میاشتې بیا د اګست تر میاشتې پوري د غنمو د حاصلاتو راټول او د سږ کال د بشري خوړو د مرستې د همغږی کچې او د کرنې د معیشت د ملاتړ د زیاتوالې له امله وي.

۵۵.	د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې څخه د مې د میاشتې تر ۱۵ نېټې پوري، د شرې د ناروغې ۴۶۶۳۲ شکمنې قضیې ثبت شوي دي چې ۸۰ سله یې د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومان و. ملګري ملتونه د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۱۵ نېټې پوري کابو ۱.۹۶ میلیون ډوز د ماشومانو د شرې ناروغې واکسین ورکړې دي. په افغانستان کې د ۲۰۲۲ کال تر دې مهال د پولیو د وحشې ویروس، د لومړي ډول، یوه قضیه ثبت شوی دی په داسې حال کې چې د پولیو د ویروس دوهم ډول هېڅ یوه قضیه نه دی ثبت شوې. په ۲۰۲۲ کال کې د هېواد په کچه د پولیو د واکسین دري کمپاینونه ترسره شوي دي چې په هر کمپاین کې ۹.۹ میلیون ماشومان، د کور په کور او جومات په جومات له لارې، واکسین ترلاسه کړي

دي. د یاد شوي واکسین په تېر کمپاین کې چې د مارچ په میاشت کې ترسره شوه، له ۹.۷ میلیون څخه زیات ماشومان واکسین تر لاسه کړي چې له دې څخه ۳.۲ میلیون ماشومان درې کلنې ته رسیدلي او د لومړي ځل لپاره دغه واکسین تر لاسه کړي، دا ښکاره کوي چې فزیکي امنیت د چاپېریال په ښه کیدو سره لاسرسی هم ښه شوی دی. د جنوري د میاشتې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۱۵ نېټې پورې د شخړې په اړوند د تراما د قضیو کې، د ۲۰۲۱ کال د ورته مودې په پرتله، ۸۲ سلنه کمښت راغلی دی. د جنورې د میاشتې بیا د مې تر میاشتې پورې ۷۴۲۰۸ د شخړو له امله د تراما قضیې مراقبتونه ترلاسه کړي دي.

۵۶. پداسې حال کې چې د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر د میاشتې راهیسې په پوځې عملیاتو کې او هم په متحرک فعالیتونو کې د پام وړ کمښت راغلی دی چې له امله یې همکارانو ته په تېر وخت کې د لاسرسی نه وړ سیمو ته، د رسیدو توان ورکړی دی. د لاسرسې وړ نور ډولونه د ۲۰۲۱ کال د لومړي ربعې په څېر په خپل حال کې پاتې دی. د بشرې فعالیتونو په پلې کولو کې لاس وهنې خورا زیات دی، د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۲۳ نېټې پورې ۱۸۵ د لاس وهنې پېښې راپور ورکړ شوی دي چې دغه شمېره د تېر کال په ورته موده کې ۱۳۸ پېښې و. د ۲۰۲۲ کال د پیل راهیسې د بشري مرستو پرسونل، شتمنیو او تاسیساتو په وړاندې د تاوتریخوالې او ګواښونو ۱۳۵ پېښې ثبت شوې دي چې د تېر د ورته مودې په پرتله کمښت ښکاره کوي ځکه چې هغه مهال د دغو پېښې شمېر ۱۱۵ ثبت شوي و. د مې د میاشتې تر ۲۳ نېټې پورې د همکارانو له خوا د مالې ۱۱ غوښتنې ترسره شوي چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله د مالې د غوښتنې قضیې ۲۶ ثبت شوي و. د واکمن چارواکو له خوا د بشري مرستو ښځینه کارکوونکې د ګواښ او ډارونې قضیې هم ثبت شوې دي.

۵۷. د جنور د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۲۱ نېټې پورې په ټولیز ډول۳۸۲۹۹۲ تنه مهاجرین بېرته هېواد ته استول شوي دي چې له دې څخه ۲۳۰۱۷۴ تنه دیپورټ شوي کسان دي. د جنور د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۲۱ نېټې پورې د ایران د اسلامې جمهوریت څخه ۳۴۸۱۵۸ تنه بې اسناده بېرته هېواد ته استول شوي دي او د پاکستان څخه ۳۴۸۳۴ بې اسناده کسان بېرته افغانستان ته استول شوي دي. د ۲۰۱۲ کال را پدېخوا شاوخوا ۵.۸ میلیونه وګړي د شخړو او طبیعي پېښو له امله بې ځایه شوي دي. یوازې په کال ۲۰۲۱ کې ۸۸۲۵۴۶ تنه د شخړو له امله بې ځایه شوی دي. د ۲۰۰ زیاتې کډوال په خپله خوښه د ایران او پاکستان د اسلامې جمهوریت څخه بېرته هېواد ته راغلي دي.

۵۸. د جګړې څخه پاتې شونې او په لاس جوړ چاودېدونکې توکې د ملکې وګړو او د بشری مرستو پرسونل ته د یو ګواښ په ډول پاتې دی. د ۲۰۲۲ کال د جنوری څخه د مې تر میاشتې پورې د ماین پاکې د خدماتو اداره ۴۱۵۳۱۰۴ متر مربع ککړه ځمکه د سروی لپاره همغږې او د پاکولو لپاره تیار کړې او د جګړې څخه په زرګونه چاودېدونکې توکې په خوندي ډول سره لېرې کړې دي. د دې علاوه ۲۵۳۹۵۶ کسان چې ۷۱۴۳۳ تنه یې ښځې او نجونې وي، د چاودیدونکو توکو د خطر په اړوند زده کړه او خبرتیا تر لاسه کړي دي. د مې په میاشت کې د ماین پاکې موسسه د ټول هېواد د ککړتیا سېمې سروې پیل کړې. واکمن چارواکې د اړوندو شریکانو سره په سلا مشوره کې، د ماین پاکې خدمات، په افغانستان کې د بشرې ماین پاکې د همغږي یو خپلواک مرکز رامنځته کړ چې د مې د میاشتې په ۲۰ نېټه د ماین پاکې ټول ټیمونه یې فعال و.

**شپږم. د مخدره توکو په وړاندي مبارزه**

۵۹. په افغانست کې د کوکنارو کرکلې په تېرو دوو لسېزو کې په چټکې سره مخ پر زیاتیدو دی. د ۱۹۹۴ کال راپدیخوا د پیل شوي سیستماتیک څارنې ښې چې په منځنې ډول سره هر کال ۴۰۰۰ هکتار ځمکه د کوکنارو په کښت کې زیات شوی دی که څه هم په هر کال کې په حاصلاتو کې پیاوړې زیاتوالې او یا کمواې هم لېدل شوی دی. د ۲۰۲۱ کال د جولاې په میاشت کې د اپینو د کلنې حاصل په پای کې اټکل شوي چې ۱۷۷۰۰۰ هکتار ځمکه کې کوکنار کرل شوی و. دا د ۲۰۲۰ په پرتله ۲۱ سلنه کمښت ښکاره کوي چې ۴۷۰۰۰ هکتار کمه ځمکې څخه استازیتوب کوي.

۶۰. د ۲۰۲۲ کال د اپینو د حاصلاتو څخه دوه میاشتې مخکې د اپریل د میاشتې په ۳ نېټه د اپینو او نور ټول مخدره توکو د کرکلې منع کول د یو فرمان په ذریعه اعلان کړ. پر فرمان کې راغلې چې د مخدره توکو او همدارنګه د نشه ای توکو لکه

الکول، هېروین، ۳.۴ ایتیلینډیوکسی میتامفیتامین ټابلیټونو او چرس کارول، انتقال، سوداګري، صادرول او یا واردول، په کلکه منع دي. که څه د واکمنو چارواکو د کورنیو چارو وزارت یادونه وکړه چې کروندګرو ته دوه میاشتې وخت ورکړل شي تر څو د کوکنارو شیره ټول او د خپل ۲۰۲۲ کال حاصل وپلوري، په داسې حال کې د کوکنار د ټاکل شوي کښتونو د له منځه وړل لا د وخته راپور ورکړ شوي و. د ورکړ شوي مودې په جریان کې د پروسس شوي هیروینو او مصنوعی درملو پلور او قاچاق هم منع دی. د دې اعلان وروسته د مخدره توکو بیې په ځانګړې ډول د اپینو بیې په زیاته کچه لوړې شوي دي. واکمنو چارواکو د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر څخه وغوښتل چې د هغو کروندګرو سره د بدیل معیشت مرستې چمتو کړي چې اندېښنه لري چې بندیز د دوی پر اقتصادي هوساینه باندې اغیزه لري. موجوده پروګرامونه د یو هراړخیز ارزونې ته به اړتیا ولري تر څو دغه اړتیاوي پوره کړي.

**د ماموریت ملاتړ**

۶۱.  د اپریل د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې په یوناما کې د خالي بستونو کچه، د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۱۸ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضا کارانو لپاره ۱۶ سلنه، د داخلې مسلکي افسرانو لپاره ۱۲ سلنه او د داخلې خدماتي کارکوونکو لپاره ۹ سلنه وه، چې د تایید شوي کچې په پرتله په ترتیب سره ۸ سلنه، ۷ سلنه، ۳ سلنه، ۳ سلنه وه. همدا راز د نړیوال ښځینه کارکونکو تناسب۳۱ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضا کارانو لپاره ۴۰ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۱۳ سلنه او د داخلې خدماتي کارکوونکو لپاره ۹سلنه و.

۶۲.  د فبروري د میاشتې د نیمايي راپدیخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په ادارو کې د کوویډ ۱۹ قضیې په ټیټه کچه کې پاتې دي چې د دې لامل شوي چې پرسونل باید په فزیکي ډول خپلو دندو ته حاضر شي. روان بېړني پلان جوړونه، په کابل کې د ملګرو ملتونو د لومړي کچې کلینیک د لوړولو لپاره د جراحي او هوايي طبی ظرفیت پر ساتلو باندې متمرکز دی.

**مشاهدات**

۶۳.  طالبان واک ته د رسېدو لس میاشتې وروسته، د افغانستان سیاسي، امنیتي او ټولنیز اقتصادی راتلونکې یې د ستر نا څرګندتیا سره مخامخ کړی دی. د اړوندو حکومتي ادارو په جوړولو کې د هڅو سره سره، دوي ندې توانېدلي چې یو هراړخیز او یا ثابت حکومتداری لېرلېد وړاندې کړي، د ځینو مهمو ستونزو د حل لپاره د یوې عمومي او عملي بدیل پر ځای پدې وروستیو کې د خپل اتباعو د ټولنیز ژوند د تنظیمولو لپاره، په ځانګړې ډول د حقونو د محدود کولو له لارې، پر پریکړو باندې تمرکز کړی دی. سربېره پر دې، د طرزالعملونو تر شا د پریکړو پروسه مبهم دی او د دوي د پلې کولو موده متضاد دی. د اساسي قانون او د قانون د حاکمیت روښانه چوکات نشتون، یاد شوي ناڅرګندتیاوی نور هم زیاتوی.

۶۴.  د واکمنو چارواکو له خوا د ګوښه کولو سیاست دوام د زیاتې اندېښنې وړ دی، ځکه چې دغه کار په ټولنه کې هغه تنوع له منځه وړي کوم چې افغاني ټولنې جوړښت دی. اړینه ده چې د ټول شمول میکانیزمونو بنسټ کېښودل شي تر څو د یو پراخ بنسټ او مشارکتي حکومتداري تسهیل شي چې د ټول افغان وګړو هیلې او ګټې پکې تمثیل شي او په ټول هېواد کې ربښتېنې پخلاینې لپاره لار هواره کړي. د بهر څخه د افغانانو بېرته راستنېدو ترویج لپاره جوړ شوی کمیسیون، طالبان هڅه کوي چې د کمیسیون په ترکیب او د هغه په مشورتي میکانیزمونو کې سیاسي افراد، د پخواني حکومت چارواکو، ښځو، مدني ټولنو او قومي او مذهبي اقلیت ډلو سره د پراخ تعامل له لاري غواړي خپل ورکړ شوی ژمنې تعقیب کړي.

۶۵.  په ټول هېواد کې د خلکو غبرګون او عکس العمل ښکاره کړی چې ډیري افغانان ناراضه دي او د خپل حقونو د محدود کیدو او د سیاسي او مدني چاپېریال د بندیدو له امله ناخوښه ښکاري. د طالبانو سره د نړیوالې ټولنې د تعامل کچه د طالبانو پدې وړتیا پورې اړه لري چې دوي څرنګه کولای شي د افغان ولس د حقونو د درناوی په اړوند په عام ډول سره خپل بیان شوي ژمنې په څه ډول عملي کوي. زه په ځانګړي توګه د ښځو او نجونو د حقونو د محدودکولو په اړوند د دوي

وروستي پریکړي په اړوند خپله ژوره اندېښنه یو ځل بیا څرګندوم. واکمن چارواکې هڅول کېږي چې د ښځو او نجونو حقونه خوندي او پراخ کړي او په کار او عامه ژوند کې د دوي بشپړ ګډون له لاري د دوی حقونه بیا ډاډمن کړي د نجونو لپاره ثانوي زده کړي بیا پیل کړي او د افغانستان د بیا رغونې او راتلونکي پرمختګ لپاره د دوي وړتیا او ونډه وکاروي. زه پر واکمن چارواکو باندې غږ کوم چې د نړیوال قانون مسؤلیتونه، د ټول افغانانو، نر او ښځه، د حقونو په خوندي کولو سره رعایت کړي. همدارنګه زه ټول نړیوال او سیمه ایز سازمانونه او هېوادونه په کلکه هڅوم چې د واکمنو چارواکو سره د یاد شویو بدلونونو په راویستل کې د دوي سره تعامل وکړي.

۶۶. د داعش د خراسان ولایت څانګې د فعالیتونو د زیاتوالي او د ترهګري او سازمان شوی جرمونو او نور ډولونو په ګډون، د دوامدار ګواښونو له امله امنیتي وضعیت ورځ تر بلې د اندېښنې وړ ګرځي. د امنیتي شرایطو د لا زیات پیچلتیا دلیل، د طالبان ضد مقاومت ځواکونو پراختیا ده. د القاعدې او یو شمېر نور ترهګر ډلو سره د تاریخي اړیکو په رڼا کې، اړتیا ده چې طالبان د نړیوالې ټولنې سره د ترهګري ضد جدي خبرو اترو کې د خپل تعامل لپاره، خپلې ژمنې سرته ورسوي. دا ډول خبرې اترې کولای شي د ترهګري لپاره د هر ډول خوندي ځای د رامنځته کیدو څخه د مخنیوي زمینه چمتو کړي.

۶۷. د مخدره توکو پر ټولو ډولونو باندې د طالبانو اعلان شوي بندیز یو مثبت پرمختګ دی او د نړیوالې ټولنې سره د خبرو اترو لپاره یو احتمالي ډګر پرانېزي. په هر ډول سره، د غیرقانوني مخدره توکو د سوداګري د اغېزې په اړوند اندېښنې لا هم ډیر زیات پاتې دي ځکه چې طالبان د سږکال د حاصلاتو د رسیدګۍ په خاطر کوم پلان نه دی چمتو کړي او د نیولو او ضبطولو په اړوند د معلوماتو شریکولو تشې شتون لري. په سیمه کې لا هم د زیات همغږی لپاره یو فرصت شتون لري چې د افغانستان د ثبات لپاره، د بدیل معیشت له لاری، د بیا رغونې سره مرسته وشي.

۶۸. زه د پخوانۍ امنیتي ځواکونو غړو لپاره د طالبانو د عمومي عفوي څخه د روانو سرغړونو، د داعش د خراسان د ولایت څانګې او د ملي مقاومت د جبهې په تړاو د تورنو کسانو د غیر قانوني وژنو په اړه اندېښنه لرم کوم چې د بشری حقونو څخه جدي سرغړونې ګڼل کېږي. زه پر واکمن چارواکو باندې غږ کوم چې د بشري حقونو مکلفیتونو ته درناوی ډاډمن کړي او د عمومي عفوې په اړوند، په ټول هېواد کې، خپل ژمنتیا وښیي.

۶۹. د هغه کسانو په وړاندې چې د واکمنو چارواکو له خوا د شرعي نورمونو او لارښونو سره سم عمل د نه کولو په تور نیول شوي دي، د ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي څخه ډک سزاګانو پلي کول د پام وړ اندېښنه ده. زه په ځانګړي ډول د هغو غیر قانوني وژنو څخه اندېښمن یم کوم چې د اخلاقي جرمونو د ترسره کولو په تور ترسره کېږی. دا د دې حقیقت ښکارندوی دی چې ښځې د دا ډول وژنو زیاتره قربانیان دي، د ښځو او نجونو د بشري اساسي حقونو د زیات محدودکولو او انکار کولو لپاره یوه غمیزه ده. زه د واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کوم چې د ټولو افغانانو لپاره بشري حقونه او آزادیګانې خوندي کړي.

۷۰. د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې له ۱۵ نېټې څخه راهیسې په وسله واله شخړو کې د پام وړ کمښت سره سره، د افغانستان وګړی د چاودیدونکو توکو، بریدونو او د جګړو څخه پاتې شوي چاودیدونکو توکو له امله د اندېښنې وړ زیانونه تجربه کوي. زه په تکرار سره یو ځل بیا پر ټولو خواو باندې غږ کوم چې د زغم څخه کار واخلې او د ملکې کسانو خوندیتوب ډاډمن کړي او همدارنګه د ماین پاکې د خدماتو لپاره د نور زیات مالي مرستې غوښتنه کوم.

۷۱. د اسلامي قانون تر چوکاټ لاندی د بشري حقونو د درناوی لپاره د واکمنو چارواکو مکرر عامه ژمنې برعکس په تېرو څو میاشتو کې مدنې چاپېریال په افغانستان کې په ښکاره ډول سره کوچنې شوی دی. واکمنو چارواکو ته د نړیوالو مکلفیتونو یادونه کیږي چې خبریالان او د مدنې ټولنې فعالین د خپل قانونې نظر د څرګندولو په تور بندې نشي. واکمن چارواکې د بشري حقونو سره سم پالیسې هم پلې کړي چې د نظر او بیان آزاد، د سوله ایزو غونډو آزادی او د ټولنې آزادی تضمینوي.

۷۲. عدالت ته لاسرسي او د پلې کیدونکو قوانینو په اړوند د پوهاوي نشتوالي او د پخواني قضايي پرسونل، په ځانګړې توګه قاضیان، د عدلي سیستم کې له کار څخه د ګوښه کولو له امله، کمزوری شوی دی. یاد شوي عوامل د محدود ظرفیت سره یو ځای په غیر متناسب ډول ښځې اغیزمن کوي او ډیري وختونه د شخړو حل لپاره، بدیل میکانیزمونو باندې اتکاء کیږي. د واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کیږي چې د پلې کیدونکې قانون وضاحت وکړي او د نړیوال مکلفیتونو سره سم عمل وکړي تر څو د ښځو په ګډون ټول افغان وګړي وکولای شي عادلانه، اغیزمن، برابر او پرته له خنډه عدالت ته لاسرسی ولري.

۷۳. افغانستان وتوانیدی چې په تېرو ژمو کې د قحطی د ناوړه حالت څخه مخنیوي وکړي خو بیا هم د خوړو د خوندیتوب او د بې ساری بې وزلی سره مخ دی. زه د ډونرانو څخه غوښتنه کوم چې د اړینو مرستو لپاره دوامداره ملاتړ وغځوي او د ټولنو هغه سیستمونه وساتي چې د هغو له لاري بشري مرستې رسول کیږي. اغیزمنو خلکو ته د بشري مرستو برابر رسول او بې خنډه لاسرسي، د ټولو بشري مرستو کامندانو، په ځانګړې ډول ښځینه کارمندانو، په بشپړ خوندیتوب پوري اړه لري. سربیره پر دې، د بشري مرستو ټول کارمندان باید په خپل فعالیتونوکې، د وسله والو ساتونکو پرته خوځښت په ګډون، په عملیاتي توګه خپلواک وي.

۷۴. د نړیوال پراختیایي تمویل ناڅاپي وتلو له امله رامنځته شوي چټک او دردناکه اقتصادي کمښت او د بشري اساسي خدمتونو کې ګډوډي، وضعیت نور هم ناوړه کوي. زه د واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کوم چې په چټکۍ سره عمل وکړي تر څو مرسته کوونکې هیوادونو ته زمینه مساعده شي چې وکولای شي په هېواد خپل پراختیایي هڅې او پروژې بیا پیل کړي. یوازی بشري مرستې د بشري امنیت د خرابیدو د بېرته راګرځولو لپاره کافی نه دی او ممکن دی چې د بشري مرستو شتون د پر له پسې بېړني حالاتو له امله کم شي. افغانان باید د عزتمند او دوامداره معیشت لپاره لاره ومومي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د انتقالي تعامل چوکاټ، د بشپړ تمویل سره، به وکولای شي د افغانستان لپاره د نوی مرستو جوړښت پخاطر خورا مهم وي.

۷۵. واکمن چارواکي د عوایدو تولید او راټولولو کې کامونه پورته کړی دي. خو سره له دې چې افغانستان په ژوره توګه په مرستو پوري متکي هېواد دی اقتصادي سرچېنې د افغانانو د اړتیاو د پوره کولو لپاره کافی نه دی. اړتیا ده چې د هېواد د مرکزی بانک د شتمنې د خلاصولو مسله په چټکۍ سره حل شي. د خصوصي سکتور، د ښځینه متشبثینو په ګډون، له خوا د خپل فعالیتونو د پراخولو لپاره ترسره شوی هڅې د ستاینې وړ دي، او واکمن چارواکي هڅوو چې خصوصي سکتور، د ښځو، ځوانانو، او پخواني ملکي کارکوونکو لپاره په ځانګړی ډول، ته وده ورکړي.

۷۶. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دوامداره شتون د نړیوالې ټولنې ژمنتیا منعکس کوي چې د افغان خلکو سره د بېړنیو بشری مرستو او بشري اساسي اړتیاو د پوره کولو، د دوامداره اقتصادي پراختیا لپاره ملاتړ، د بنسټېزو بشري حقونو او آزادیو د خوندیکولو لپاره د دوي هڅو سره مرستې وکړی. د واکمنو چارواکو، نور ملي همکاران، ملګرو ملتونو او نړیوال ټولنې تر منځ د یو منظم ډیالوګ ترسره کول تر بل هر وخت اړین دی. دا ډول ډیالوګ کولای شي د نړیوالې ټولنې او واکمنو چارواکو تر منځ باور رامنځته کړی، د داسې یو ټولېز هدف په مقصد چې د افغان وګړو زیات زیانمنیدونکې وګړي وضعیت ښه شي کوم چې په هېواد کې د ډیري پېچلي بحرانونو پېۍ زغملې دي.

۷۷. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو څخه، چې زما د ځانګړي استازی ډیبورا لاینز په مشري او د غیر دولتي موسسو شریکانو څخه، چې په خورا ننګونکو وضعیت کې په دوامداره وقف سره کار کوی، ژوره مننه کوم. زه د میرمن لاینز څخه چې پدې وروستیو کې خپله دنده بشپړه کړه د هغې د پیاوړي مشرتابه، وقف شوي خدمت او ملګرو ملتونو ته د هغه وخت په جریان کې چې د افغانانو لپاره په ځانګړی ډول ستونزمن و، د ثبات او ژمنتیا له امله مننه کوم.

--------------